ناشر و نویسنده: پوهندوی آصف بهاند
تأریخ:۱۵/۰۹/۲۰۱۴

# د حق الزحمې نوی تعریف

یو وخت یو ښه طنز لیکونکي په لنډ ډول د «طنزي تعریفات» تر سرلیک لاندې، په ټولنه او عیني ژوندانه کې ځینو ترخو حقایقو ته د طنز په ډول اشاره کړې وه. ځینې شیان یې تعریف کړي وو، چې یو څو یې دا دي:

ږیره: د مخ هغو ویښتانو ته ویل کیږي چې د جهاد په وخت کې اوږده پریښودل کیږي او د دیموکراسۍ په موسم کې یا رخیل کیږي او یا لنډیږي.

مارشال: مارشال په لغت کې هغه مار ته ویل کیږي چې په شال کې تاو شوی وي او په اصطلاح کې هغه نظامي صاحب منصب ته ویل کیږي چې د اشغالګرو قواوو په مخ کې روان وي او خپل وطن ورتسلیموي.

والي: هغه دولتي مامور ته ویل کیږي چې مخکې له ولایت نه په کرایي کور پسې ګرځي او د والیتوب وظیفې له تر لاسه کولو وروسته خو کورونه په کرایه ورکړي.

خو په دې لړ کې د حق الزحمې نوی تعریف ورنه هیر شوی و. د اوسني دیموکراسۍ او د بیان آزادۍ؟ په دایره کې د عیني شواهدو له مخې د حق الزحمې له پاره ما داسې تعریف غوره ګڼلای دی:

حق الزحمه د ښکنځلو او توهین هغې ټولګې ته ویل کیږي چې د یو فرهنګي په آدرس د هغه د فرهنګي کارونو په بدل کې د نوی ټکنالوژۍ په مټ د دیموکراسۍ او بیان آزادۍ؟ په دایره کې ، د یوې ویبپاڼې په کامنټ(Comment ) برخه کې په نره او بې مسولیت ډول اېښودل کیږي.

او دا کار ډیر ځلې په هغو ویبپاڼو کې شوی او کیږي چې د بیان د آزادۍ تر نامه لاندې یې د نظریاتو له پاره ځای جلا کړی دی، چې هلته فرهنګیانو او قلموالو ته د ښو مشورو او رغنده نیوکو په ځای بیسواده، نا پوه او ... ویل کیږي. ما یې پخوا بیلګې په یوه مقاله کې ښوولې وې(۱)، بیا یې نه یادوم.همدا پرون په ټانډ کې د اجمل پسرلي د یو مطلب په پای کې اجمل پسرلي ته ښه حق الزحمه حواله شوې ده. آیا اجمل پسرلی په دې حق الزحمې ارزي؟

د استاد پسرلي په شنه راپاتي بڼ کې یوه با ثمره ونه اجمل نومیږي. دا ونه په ژمي او اوړي کې له ثمره ډکه وي، خوږې او رنګارنګ میوې د فرهنګ مینه والو ته په تازه او نوې بڼه وړاندې کوي. د څو میوو نومونه یې چې په دا وروستي فصل کې یې زموږ د فرهنګ خزان وهلي بڼ او بازار ته وړاندې شوې دي، دا دي:

تاریخ(۲)، پیښو(۳)، ځلیریشت ساعته(۴)، د سبک زولانه(۵)، ښکلا(۶)، ښه اوبد(۷)، سوله(۸)، سوی(۹)، مور(۱۰)، پتپتونی(۱۱)، شراب(۱۲)، عقیده(۱۳) او سره زر.(۱۴)

د اجمل پسرلي د وروستۍ لیکنې چې د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر په څوارلسمه په ټانډ کې آنلاین شوې ده، په کامنټونو کې یې تبصرې راغلې، تور ورباندې تپل شوی او د پردیو تورو په غلته کارونه په غیر مستقیمه توګه بیسواده بلل شوی دی:

«... اې کاکا ! چې پردی لغت کاروې نو په اصلي بڼه یې وکاروه .تهراني انګلیسي لغتونه په لندن کې مه کاروه دا خو له انګریزانو سره هم جفا ده . همدا ناپوهي او لاشعوري حالت زموږ د ژبني کمزورۍ لومړي قدم دی.»(۱۴)

زه دلته د دې خبرو پر ځواب څه نه وایم ، خپله اجمل پسرلي د یوې جلا عالمانه مقالې په ترځ کې په مستند ډول ځواب ورکړی دی.(۱۵)

دلته دا پوښتنې باید مطرح شي چې:

۱ـ موږ لیکوال، شاعر، محقق، هنرمند ... په یوه ټکي کې، «فرهنګي» ته د هغه د زیار په بدل کې څه ورکوو؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولۍ

۲ـ اوسنی میډیا ولې داسي خلکو ته زمینه برابروي چې د فرهنګي د کار او زحمت په مقابل کې د پاداش په ځای، ښکنځلي او توهین د هغه په آدرس ولیږي؟
په پښتو قاموسونو کې حق الزحمه داسي مانا شوې ده:
«حق الزحمه(haqolzahma)ښځ. م. اُجوره، باړه، مزد، د کار او زحمت مزد، اجرت.(۱۶)
پخوا له هغه چې په افغانستان باندې د ټوپکیانو حاکمیت نازل شي، په میډیا کې به فرهنګیانو ته د هغوی د تحقیقي او تخلیقي او ژباړو په مقابل کې د«حق الزحمه» په نامه یو څه پیسي ورکول کیدې؛ چې د افغانستان په قوانینو کې یې ځانته جلا مقرره درلوده، خو له هغه وروسته چې په کابل او لا ټول افغانستان کې د ټوپک شپیلی په سُر سره په غږیدا شوه، د انقلاب د توري په اصلي مفهوم سره هر څه بدل شول. له دې سره سم د حق الزحمي تعریف هم بدل کړای شو حق الزحمه د ښکنځلو او توهین هغې تولګې ته ویل کیږي چې د یو فرهنګي په آدرس د هغه د فرهنګي کارونو په بدل کې د نوي تکنالوژی په مټ د دیموکراسی او بیان آزادی؟ په دایره کې د یوي ویبپاڼي په کامنټ(Comment ) برخه کې په نره او بې مسولیت ډول اینبودل کیږي.
لیکوال او فرهنګي هم ژوندی خوځنده موجود دی خوراک، څښاک او پوښاک ته اړتیا لري. اوس که کوم حکومت او دولت او سپانسور نه شته چې د حق الزحمي په نامه څه ورکړي، نو د ښکنځلو امیل خو دې غاړې ته نه ور اچول کیږي، د تقدیر نامې په ځای دې توهیننامې نه ورکول کیږي.
زموږ ټولنه تر اوسه پوري د فرهنګي مفلسي په دې برید کې ولاړه ده چې:
ـ سندرغاړي او سازي ته د ګنهکار، کافر او ډم توري کاروو، دا د هغو ډیره ښه حق الزحمه ده،
ـ وطن دوست او په خلکو مین شاعر ته د نورو په لمسه «انتحاري جهاني»«خرڅ شوي» او داسي نور القاب ورکوو،
ـ ښه محقق ښه منتقد ښه استاد او ښه ژباړن ته د نورو په لمسه د غله توری کارول کیږي،
ـ یا یوه شاعر، لیکوال، د لوړو زدکړو خاوند، د علمي رتبي درلودونکي او له استادی، شاعری او لیکوالی سره سره د بیسواد خطاب کول،
او داسي نوري بیلګې.
دا څوک کوي؟ له کوم آدرس نه دوی غږیږي؟ که یې آدرس، نوم، د تحصیل ځای، د تحصیل درجه، اصلي نوم، ګوند یا سیاسي لاره یا بل کوم ډول ښنه او ځای مالوم وی، نو بیا به مو د «ده» یا «دې» په آدرس یو څه ویلي وای.
او بیا ولې په نه شي، په بې مانا شیانو یو لیکوال خپل وخت او انرژي ضایع کاندي او درسته ورځ د داسي خلکو په آدرس بیرته ځوابونه ولیکي.
دغه ښاغلي خان؟ که دومره په خپله ژبه، فرهنګ او فرهنګي کارونو مین وي او د تیر وتنو مخنیوی کوي یا یې کولای شي، نومهرباني دې وکړي یو وار دې د فیسبوک بې مسولیته بازار ته سر ور ښکاره کړي چې څه ډول الفاظ په کې کارول کیږي؟ هلته په هغه بې څښتنه، بې مسولیته او بې سر پوښه بازار کې د انسان د بد نهاني یا پټ اندمونه هره ورځ د الفاظو په جامه کې کارول کیږي اوخرڅلاو ته وړاندې کیږي چې په هیڅ کلتور او مذهب کې یې د کارولواجازه نه شته، ولې د هغو دمخنیوي او نه کارولو له پاره دا ښاغلی خان؟ اقدام نه کوي چې په ډیرې بې احترامۍ وایي:«...همدا ناپوهي او لاشعوري حالت زموږ د ژبني کمزوری لوموړي قدم دی»، او ولې دې د کارډ پر ځای کارت لیکلی دی. د دې خلکو مخه داسي نه شي نیول کیدای. زما وړاندیز دا دی چې:
درنو قلموالو،فرهنګیانو او په ځانګړي توګه د دوله ایزو رسنیو او ویبپاڼومسولینو!
راځئ د دیموکراسی او د بیان د آزادی له دې غوري شوروا نه تیر شئ او هغه ویبپاڼي چې د مطالبو په پای کې د کامنټونو له پاره ځای جلا کړی دی، کرار یې وتړئ هر څوک چې د چا په کوم مطلب یا شعر یا اثر یا کومه خبره څه ویل یا لیکل غواړي، نو د یوي اوږدې یا لنډې مقالي په توګه دې خپلې خبرې او دلایل ولیکي او د ټولو مخې ته کیږي. که چا څه ورته لیکل، ځان دې بیا غلی هم نه نیسي. که په بحث کې بې ځوابه شو، څوک یې له ستوني نه را نیسي، حد اقل د ښئني په غوښتلو سره دې له مقابل لوري او د هغه له حق په جانب توب او مالوماتو نه مننه وکړي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

پای

ماخذونه:

1- http://tolafghan.com/posts/28031
2-http://www.taand.com/archives/19951

3- http://www.taand.com/archives/21150
4-http://www.taand.com/archives/23739
5-http://www.taand.com/archives/21506
6-http://www.taand.com/archives/23556
7-http://www.taand.com/archives/21497
8- http://www.taand.com/archives/20328
9-http://www.taand.com/archives/21980
10-http://www.taand.com/archives/22475
11-http://www.taand.com/archives/30250
12- http://www.taand.com/archives/29834
13-http://www.taand.com/archives/30485
14-http://www.taand.com/archives/30732
15- http://www.taand.com/archives/30832
۱۶- مشوانی زاهد،عبدالقیوم، پښتو- پښتو سیند، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز،دریم چاپ، ۲۰۰۹میلادي کال، ۳۹۵مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ